مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبر بری

۲۰۲۳/۰۳/۱۹

# لېونی زړه

زه اوس څه وکړم په خپل دې لېوني زړه
چي لا اوس هم ښکلي وينم په درزا شي
نه يې شرم نه هم زما عمر ته پام کړي
بس په خپل سر خندنی شي بې حيا شي
راکي وينښ کړي ويده شوي هوسونه
راکي پټ پټ اميدونه برالا شي
او که چېري يوه راوګوري نا پامه
ده کي خدازده څه اسرې هيلي پيداشي
راته جوړکړي محلونه د ښاديو
د تريخ ژوند تپه تياره رڼه رڼا شي
بس په وينو سترګوسرشم په خوبونو
بس پر شونډو مي خوره خوره موسکا شي
بيرته ځوان شم بيرته هېر کړمه نورهرڅه
بيرته ورانه د زړښت ورانه دنيا شي
خو چي لږ شيبه پس بيرته را په حا ل شم
تکه توره مي تر سترګو هره خوا شي
بيا هماغه زه هماغه زړبوډي وي
بيا هماغه مايوسي د زړه بلا شي
له کوګله مي يو سوړ اسويلی ووزي
او د واره دا خبر ذهن ته راشي :
زه اوس څه وکړم په خپل دې ليوني زړه ؟
چي لا اوس هم ښکلي وينم په درزا شي ؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ